# الزلزال

**مدنی سورة دی ۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ١

**کله چې ځمکه په سختو زلزلو ولرزیږی( هیڅ ماڼۍ او ودانۍ روغه پاتې نشی او په هوار میدان بدله شی).**

وَأَخۡرَجَتِ ٱلۡأَرۡضُ أَثۡقَالَهَا ٢

**او ځمکه خپل درانه بارونه راوغورځوی( که مړی دی، که کانونه او که ذخایر).**

وَقَالَ ٱلۡإِنسَٰنُ مَا لَهَا ٣

**او انسان به ووایی چې دا په ځمکه څه وشول؟**

يَوۡمَئِذٖ تُحَدِّثُ أَخۡبَارَهَا ٤

**په دغه ورځ به ځمکه خپل( هغه د خیر او شر) پیښې بیان کړی( چې ورباندې سرته رسیدلی دی).**

بِأَنَّ رَبَّكَ أَوۡحَىٰ لَهَا ٥

**ځکه ستا رب به ورته وحې (امر)وکړی.**

يَوۡمَئِذٖ يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٦

**هغه ورځ به خلک( له حساب کتاب نه وروسته) د بیلابیلو ډلو په شکل( په جنت او دوزخ کې خپلو ابدی هستوګنځایونو ته) وروګرځی، او د خپلو اعمالو ثمره او نتیجه به( په عملی توګه) ووینی.**

فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ٧

**نو که چا د یوې ذرې په اندازه نیکی کړی وی، وبه یې وینی.**

وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ٨

**او که چا د ذرې په اندازه بدی کړی وی هم مخې ته به یې کیښنودل شی.**

**« تمت سورة الزلزال بفضل الله و رحمته»**

====================